# د (G)برخه دزراعتی ځمکواخستل او پلورل.

دو هم لوست:دحق لرلو او مسولیت لرلوا حساس

( Owner ship right and responsibilities)

## دشاگردانو ددپوهی هدفونه :

شاگردان ددی درس ّ په نتیجه کی لاندی اهدافو ته نژدی کیږی :

۱- ما لکیت اوددی ډول شتمنیو تشریح کړی.

۲- د ځمکو دڅښتنانو مسولیت تشریح کړی.

۳- دشخصی شتمنیو دسا تنی طریقی تعریف او تشریح کړی

## دتدریس پیشنها دشوی وخت : ۱ساعت

دوړاندیز شوی سرچینی: لاندی سرچینی کولای شی ددی درس په تدریس کی گټه ور وی:

. په کمپیوتر ی پروگرام کی ارایه کول پاور پاینت هم په دی تدریسی پلان کی ځای ورکړل شویدی.

Lee jasper S.national resources and environmental technology. Danville, Illinois; Interstate Publisher, Inc., 2000.(Text book, chapter 19)

Looney, J.W. and Donald L . Uchtmann. Agricultural Law: principle and cases, 2 Edition. New York , New York : McGraw-Hill,Inc ., 1994,(textbook, chapter 10)

## د سامان الات ،وسایل ، تجهیزات او تسهیلاتو لست

دلیکلو سپینه ورقه یا سپینه صفحه

دپاور پاینت دپاره پروجکتور

د پاور پاینت سلا یدونه

روښانه سلایدونه

اصطلاح گاني

: په دی درس کی لاندی اصطلاح گاني داستعمال وړ دی ( ذکر شوی اصطلاح گاني دپاور پاینت په ۲ نمره سلاید کی تشریح شوی دی):

Environment Steward ship چا پیر یال تفتیش

- 
- Minerals rights معدنی حقوق
- Nuisance دتکلیف او زیار منځ ته کول
- Personal property شخصی اموال
- Posting دخبرتیا او اگاهی نصبول
- Propertyشتمنی
- Real property غیر منقول شتمنی
- Riparian rights دویالو حریم حقوق
- Stream flow دویالو داوبو جریان
- Trespassingدبل چا په پرمال تجاوز کول

**په زړه پوری طریقه**: دلاندی برنامی خلاصه شاگردانو ته تشریح کړی .فرض کړی تاسی ۲۰هکتاره ځمکه دښار په شا او خوا کی لری . هغه سین چه دښار اوبه تامینوی ستاسی دځمکو له منځه تیریږی او ځمکه جگوالی او ټیټوالی زیات لری .کله چه شدید بارانونه کیږی د اوبو دایستلو په منظور زاه کشی کیږی تصرف اورسوبات انتقالوی او عمومی لاره چه دځمکی په امتداد کی ده تړل کیږی .

اوس دشاگردانو نه وپوښتی چه څښتن ددی چه دځمکی دمنځه تیریږی څوک دی؟ ایا دځمکی څښتن که وغواړی دسین داوبو په مقا بل کی څه کولای شی؟ کله چه شدید بارانونه جریان پیدا کوی دخاوری اواوبو دزه کشی به برخه کی څه کول په کار دی؟ ایا هغه رسوبات او خاوره چه عام لاره یی بنده کړیده ددی مسول څوک دی او چا پوری

اړه لری ؟دی سوال ته په اسانی سره ځواب ورکول چه څوک دطبیعی منا بعو خاوند دی ژر نه شی کیدی .دهمدی بحث نه په استفادی سره کیدی شی د صنف توجه د لومړی درس هدف ته را وګرزوی.

## ددرس د محتویاتو او اهدافو لنډ مطلب

لومړی هدف: څښتن او دشتمنیو ډولونه بیان کړی .

مسله یا دوړاند وینی مشکل: ما لکیت څه دی؟ څو ډوله مالکیت موجود دی ؟

(دسلاید شمیره ۳ ،۴ پاورپاینت)

1- مالکیت (Owner ship) په معنی دیوه شی (کالو) لرل یا څښتن وی. هغه وخت چه یو سړی دمځکی خاوند وی .نو د ملکیت سند یا دهغی( مځکی) قباله په لاس لری، چه دغه سند ښی یی چه دا مځکه دهمدی سړی ده.کله چه یوه عرا ده ګاډی پلوری . دګاډی څښتن ته یو سند هم ورکول کیږی. چه په دی سند کی د ګا ډی دپلورونکی نوم لیکل شوی وی. هر جنس چه دچا له خوا پلورل شوی وی دی جنس ته شتمنی ویل کیږی.
هغه خلک یاا شخاص چه دشتمنیو څښتن دی هغوی خپل دشتمنی په مقابل کی لرونکی دمشخصو حقو قو او مسولیتو دی . مالکان یا خاوندان د قانونی اجازی دلرلو نه وروسته کولای شی خپل شتمنی څخه تر هغه وخته پوری چه وغواړی استفاده کولا ی شی یعنی د خپل مجوزی دارای څخه استفاده کوی.

( د پاور پاینت 5او6دسلا ید)

### په عام ډول دوه ډوله دارایی موجود دی:

-الف) شخصی دارایی،عبارت دهغی شتمنی څخه دی چه څوک دهغی څښتن یا مالک وی او دخپل دضرور یاتو اوغوښتنو درفعی په منظور تری استفاده کوی . دی ډول شتمنیو څخه په ورځنی ژوند او کارونو کی تری استفاده کوی. ددی ډول شتمنیو نمونی عبارت دی له مبایل،ګاډی،پوښاک او داسی نور دی دموتریا کادی څښتن کولای شی خپل موټر په کرا یه ورکړی.په دی ډول قضیو کی دګاډی څښتن داجاری ورکولو د مدرک قانونی سند په لاس راوړی .د ګاډی څښتن صرف خپل ګاډی د معینی مدی اود مشخص استفادی دپاره د قرضی یا اجاری په ډول ورکوی.

( د پاورپاینت ۷،۸. او۹ سلایدونه)

ب)غیر منقول اموال(Real properties)،عبارت د هغه مځکی او تعمیراتو څخه دی چه دهمیش دپاره مځکی پوری متصل وی. هر کله چه مځکه خرڅیږی معمولاً طبیعی منابع یی هم په همدی خرڅلاو کی شامل دی. او طبیعی منا بع عبارت دی له ونی،ویالی ،خاوره.په ځنو مواردو کی،شاید څښتن یا دمځکی مالک ځمکه خرڅه کړی ،ولی خپل مشخص حقوق ځان ته وساتی ،دمثال په توګه دمعدن حقوق،دمعدن حقوق ،عبارت دمعدن مالکیت دی ولوکه د مځکی دپاسه یا د مځکی تر لاندی دی. او مځکه خرڅوونکی دهغی دملکیت حقوق دځا ن سره ساتی . شاید څوک وغواړی یو اکر(acreage) خپله مځکه درمی دځرولو دپاره په کوم بل بزګر باندی خرڅ کړی. که مځکه خپل په ښکتنی برخه کی نفت ولری ،شاید خرڅوونکی طرف دمځکی د بر مه کولو حقوق ځان سره وسا تی څو په اینده کی خمکه په عین وقت کی چه دهقان (بزګر) تری دځر دپاره استفاده کوی،هغه بر مه کړی.

ددی هدف د اصطلاح ګا نو د زیات وضاحت او تشریح دپاره د Tm: 2-1 ددرسی موادو نه استفاده وکړی . دبحث په جریان کی دشاګردانو نه وغوښتل شی څو ددواړو شخصی شتمنیو او دغیر منقول شتمنیو څخه چه پخپله دوی یا ددو دفامیلی اعضا ء یی لری ارایه دی کړی ،دشاګردانو نه وغواړی څو ددی ډول افرادو حقوق او مسولیتونه دمختلفو شتمنیو په برابر کی تشریح کړی.

دوم هدف: دمځکی دخاوندانو مسولیتونه وپیژنی.

مسله یا دوړاندوینو مشکل: دمځکی څښتن یا دمځکی ما لک دکومو مسولیتونو لرونکی وی ؟

(دسلاید شمیره ۱۰ پا ورپاینت )

۱- شتمنی درلودل دهرچا مسلم حق دی. ولی ددی سره مسولیتونه هم لری. دمځکی دخاوندان ځنی لاندی مسولیتونه لری .

(دسلا ید شمیره ۱۱ پاورپاینت)

الف) ساتنه او پالنه-خاوندان یا ښتنان خپل دشتمنیو دساتلو مسولیت لری چه هغه په ښه حا لت کی وساتی. دا ډول ځارنه اوساتنه عبارت دی. چه باید خپله ځمکه دوښو ونو په لرلو او د حصاری دیوارو په جوړولو سره وشی کړای ځود ځارویو دداخلیدو او ورکیدو نه وساتی ، او تعمیرات د ساتنی په ښه حالت د ترمیم کی وساتل شی

( ۱۲ سلا ید شمیره پاور پاینت)

ب) دخساراتو په مقابل مسولیت-دخساراتوپه مقابل کی مسولیت خصوصا هغه وخت کی مهم دی چه مفتشین په منظم ډول اجازه لری مځکی ته لاس رسی ولری.په ځنی هیوادو کی دمځکی خاوندان دزیانونو ( liability insurance) په مقا بل کی مسولیت پلوری ځو ځان دز یانونو او خطراتو په صورتکی په مقابل دمسولو ناظرینودمخامخ کیدو وخت کی چه ددو په ځمکی کی قرار لری، محفوظ واوسی.

(۱۳ سلاید شمیره پاورپاینت )

ج) دخلکو د ازار- ضرر رسول کنترول ( nuisance) دامن هر اقدام ، چه د جامعی صحت او سلا متی تهدید کړی، دی ته ضرر یا تکلیف ویل کیږی،دمثال په توګه داهلی ځارویو خاوندانو مسولیت دی ځو خپل د مړه شوی ځارویو لاش دی په احتیاط سره ځای پرځای کړی ترځو ددی لاش نه همسایه ګانو(ګاوندیوته ) ته ضرر ونه رسوی.

(۱۴ سلاید شمیره پاور پاینت )

د) محیطی ازار اوتکلیف – د مځکی خاوندان باید چاپیریال ساتنی ته همیش متوجه واوسی ،محیطی نظارت یا(Environmental Steward ship ) عبارت دهغی محطا طانه کړنی څخه دی چه یو شخص یی خپل دچاپیریال په مقابل کی هغه ډول رویه کوی چه دی یی دنورونه تقا ضا لری، (بزګرانو مسولیت لری ځو دګیا وژونکو(Pesticides )داستعمال په وخت کی ،دمحفوظو چاروڅخه کار واخلی ترځو په دی ترتیب سره دتهدید دزیاتیدو نه خلک او چاپیریال ته زیان ونه رسیږی .

( 15 ،۱۶ ،۱۷ پاورپاینت شمیره سلایدونه)

ه) اوبه- داوبو دمنابعونه مسولانه استفاده کول د مځکی دمالکیت د یوی برخی په ځیر کتل کیږی ، په کلی توګه دمځکی خاوندان کولای شی حوضونه وکاګی . او دکښل شویوحوضو نه د ضرورت مطا بق اوبو نه استفاده وکړی .
په ځنو منطقو کی دمځکی مالکیت معمولا دحریم دحقوق سره یو ځای او متصل وی. دحریم حقوق، داوبونه استفاده دګاونډی ځمکی ښتن ته توجه کیږی، هغه اندازه او به چه باید تری استفا ده وشی د ضرورت اندازی پوری اړه لری.
چه هغه کی دکور او دځارویو ضرورت په پام کی نیول کیږی، دویالی دموجودیت په صورت کی، دویالی دواړه خواوی دویالی داوبونه خپل کور اوځارویوته داستفادی حق لری، دویالی اویا دنهر داوبو نه دحد څخه زیاته استفا ده کولای نه شی ،د ویالی جریان عبارت داوبوحرکت دحجم اوسرعت څخه دویالی په کانال کی وی، داوبو دجریان میزان او اندازه چه یوه ځمکه ترک وی باید تقریبا په هغه اندازه داوبو وی چه همدی ځمکی ته وارد شوی وی،

د2-2 : Tm درسی موادو نه د هغو مسولیتو نو دخلاصی په خاطر چه د مځکی ملکیت پوری اړه لری ، استفاده وکړی، دشاګردانو نه وغواړی څو دفعلی مشکلاتو چه د زمیندار ی دحقوق او مسولیت په برخه کی وجود لری تحقیق وکړی،

دریمه موخه :دشخصی شتمنیو دساتنه توضیح او تشریح کړی.

مسله یا دوړاند وینی مشکل: دشتمنیو خاوندان خپل مال دساتلو دپاره د کوم ډول اقداماتوڅخه استفاده کولای شی؟

( د۱۸ او۱۹ سلاید شمیره پاورپاینت )

۱- دمځکی مالکان یا څښتنان خپل شتمنیو دساتلودپاره ډیره علاقه لری څو ددوی دمځکی څخه استفا ده کول یوائی هغو خلکو پوری مربوط کړی چه دکار جواز ولری. او دمځکی دخاوند ساتنه ،ساتل اومسولیت یی د احتمالی تاوانو نه چه دمتخلفینو له خوا منځ ته راځی کموالی ورکوی ، ظلم اوتخلف چه دبل چا له خوانه په شتمنی باندی بدون دسند دلرلو نه صو رت نیسی مخ نیوی کوی . دمځکی څښتن دمختلفو وسایلواو امکاناتو نه خپل دمځکی دساتنی په خاطر دمتخلفینونه استفاده کولای شی ، دوه عامی طریقی یی په لاندی ډول دی :

(۲۰ او ۲۱ سلاید شمیره پاور پاینت )

**الف)** دوی عامی لاندی لاری لری :داعلاناتویا خبرتیا نصبول ددی پخاطر چه په مځکی باندی د تخطی اوتجاوز نشتوالی دی. داطریقه لرونکی د خبرتیا اعلاناتو نصبول دی . چه پرځمکه باندی تجاوز او خلاف ورزی منع کوی. داعلاناتو نصبول دا طریقه شاید د تخطی او تجاوز ممنوعیت په قسم دمجلل او معلومداره د شته منیو په حدود کی وی چه په منظم انتروالوکی د ملکیت په اړوند سیمو باندی نصب شوی وی.

(۲۲ سلاید شمیره پاور پاینت

ب) نصبول یا د چار چاپیر(حصاری) دیوار جوړول(fences) په ډیرو مواردو کی ددیوارو فزیکی موجودیت دا ښی یی چه ننوتل هغی ځای یا هغی مځکی ته منع دی دبښار دباندی مناطقو کی( suburban ) داخلیدل منع کوی .محرمیت یا دخصوصی ژوند د کور خاوند ته تامینوی . په اطرافی منا طقوکی ، ذکر شوی دیوارونه اهلی څاروی یو دبل نه بیلوی . یا دسرحد حیثیت لری او لاس رسی قیدوی.

دTm:2-3 رسی مواد و چه د دوو عمومی طریقو دخلاصه کولو چه دتعدی او تخلف دکمولو په منظور په کار وړل شویدی. دشاګردانو څخه وپوښتی نوری طریقی چه هغوی فکر کوی څرنګه کیدی شی چه تخلف اوظلم پر شخصی شتمنیو باندی کم شی . تشخیص کړی.

دمطلب لنډیز:ددی درس دخلاصه کولو دپاره دشاګردانو دپوهی څخه استفاده وکړی .شاګردان دموضوع دمحتویاتو دتشریح په خاطرد هر هدف دپاره وغواړی.دشاګردانو دځواب څخه کیدی شی دیو اساس په توګه داهدافو دټاکلو دپاره دنظر دنوی کیدو سبب شی یا دمختلفوزاویو نه تدریس شی، .په دی برخه کی د۲۳ سلاید څخه هم استفاده کولای شی.

ارزیابی:ارزیابی باید درسی اهدافوته دشاګردانو د نژدی کیدو یا دتمرکزپه منظور صورت ونیسی. دشاګردانو دارزیابی دپاره مختلفی طریقی شته .مثلاً دشاګردانو کړنه دهغو په ور کړل شوو وظیفو کی او یا داچه په دی برخه کی دنمونوی امتحان نه چه دشاګرد انو اهدافو ته د نژدیوالی په منظور بررسی کیری استفاده کولای شو تحریری ساده امتحان ددی سند ضمیمی په ډول ارایه شویدی.

## دنمونوی امتحان ځوابونه.

لومړی برخه: مطابقت ورکول

1. C
2. A
3. D
4. E
5. B

خالی ځایونه ډک کړی

1. Personal شخصی
2. Nuisance اذیت او ازار
3. Riparian right دمالک حقوق دنهر ترڅنګ
4. Trespassing ظلم اوخلاف رفتاری

لنډ ځواب:

د نهر دغاړی دمځکی دمالکینو حقوق ( riparian right) بنا پر حقانیت دویالو ( دنهر) داوبو نه دده قانونی حق دی. ځکه چه ځمکی یی دسین( رود) په غاړه دی . دحریم حقوق دهمسا یه داو بو حق ثا بتوی. داوبو هغه اندازه چه باید تری استفاده وشی دی پوری اړه لری چه په کومه اندازه اوبه دکور او دڅارویو د مصرف دپاره ضرورت دی .

O - دوهم هدف وګوری.

نمونوی امتحان

نوم ــــــــــــــــــــــــ

امتحان

---

**دما لکیت دحقوق در ک او مسولیتونه**

**(Ownership Rights and Responsibilities )**

تطبیقول

لارښود: پخلاکیدل (اصطلاح) د درستوځوابونو مطابق ارایه کړی. د لغت (اصطلاح) ټکی د تعریف له نظره ولیکی.

Property. a شتمنی

Posting.b دخبرتیا اواعلاناتو نصبول

Environmental stewardship.c دچاپیریال ساتنه او نظارت

Mineral rights .d د معادن حقوق

Real property.e غیر منقول اموال

------- ۱ یو محطا طانه عمل کول دی یا دچا پیریال په مقابل کی داسی رویه وکړی چه دی یی دنورونه توقع لری.

------ ۲ جنس او مال چه دچا نه تسلیم شوی وی .

------- ۳ عبارت د معادنو دهغی مالکیت څخه دی چه د مځکی دپاسه یا دمځکی لاندی وی او دمځکی خرڅوونکی دهغی دمالکیت حق ځان سره ساتی.

------- ۴ عبارت دهغه مځکی او تعمیراتو نه دی چه په دایمه توګه دمځکی سره وصل وی.

-------- ۵هغه طریقه ده چه پر مځکی باندی دتخطی اوظلم منع کول ښکاره کوی.

۱ . ---------عبارت دهغی دارای نه دی چه شخص یی ښبنتن اوما لک وی. او خپل دغوښتنو او دضرورریاتو درفع په خاطر تری استفاده کوی.

۲. -------- دامن هر اقدام ، چه دټولنی صحت او سلامتی تهدید کړی ، دی ته ضرراو ازار(زور او زیاتی) ویل کیږی.

۳ . ------- د قانون سره سم داوبونه استفاده دشتمنی د قانون مطابق حق لری دهغی( نهر) نه چه دمځکی خوا ته یی وی استفا ده وکړی.

۴ . داجازی دنه لرلو په صورت کی دبل چا شخصی ملکیت ته داخلیدل ------------- یادیږی.

## لنډځواب :لاندی سوالونوته ځواب ورکړی.

۱ .دنهر ترخوا دمځکی ښتن دحقوق مفهوم تشریح کړی . او دنهرداوبو جریان نه په څه ډول استفا دی کولو معلومات ور کولای شی.

۲ . دذمیندارو دوه مسولیتونه کوم دی تشریح یی کړی.

## اصطلاکانی چه دشتمنی پوری اړه لری.

دارایی- جنس چه چا پوری اړه لری.
دوه ډوله دارایی یا اموال وجود لری.

- **شخصی دارایی،** عبارت دهغی دارایی څخه دی چه شخص یی مالک یا څښتن وی. او خپل دغوښتنو اوضرورت درفع په خاطر تری استفا ده کوی .
- **غیر منقول اموال(Real property)،** عبارت د هغی مځکی یا تعمیر څخه دی چه په دایمه توگه دمځکی سره متصل یامښتی وی.

**معدنی حقوق:** عبارت د معادنو مالکیت څخه دی. هغه مالکیت ته وایی چه معدن(کانو) دمځکی دپا سه یا د مځکی لاندی موجود وی او مځکه خرڅوونکی دهغی دمالکیت حق ځان ته ساتی.

## دمځکی د خاوندانو مسولیتونه په لاندی ډول دی:

- دشتمنیو دشرایطوساتنه اوتری مراقبت کول.
- دخساراتو دمسولیت په مقا بل کی دهغی ساتنه.
- دازار اوضرر(زور او زیاتی )رسولو کنترولول.
- دچاپیریال ساتنه اوڅار نه کول.
- په درسته طریقه داوبو دسرچینوڅخه ګټه (استفا ده) کول.

عامی طریقی چه د  ظلم او تخطی دکمیدوسبب کیږی.

الف) داعلاناتو نصبول پرمځکی باندی  د خلاف رفتاری اوظلم  د منع په خاطر، دا طریقه لرونکی د خبرتیا  داعلان نصبول د تجاوز  او خلاف رفتاری دمنعه کولوپه خا طردی.  داگاهی نصبول  شاید  جلا ورکول او دمنعی دنښو په ښکاره ډول ښودل دی چه دشتمنی په حدودو کی نصب شوی وی دا دځه مودی په وقفو سره دملکیت په ټولو برخو کی سریخیږی .

ب) نصبول یا چار چاپیردیوار کول (fence)- په ډیرو مواردو کی ددیوارو فزیکی موجودیت ددی ښودونکی دی چه دخول ځمکی ته منع دی . چارچپیر(حصاری) دیوارونه دښارنه دباندی منطقو (suburban) کی .داخلیدل منع کوی محرمیت  یادکوردځښتن خصوصی ژوند تامینوی . په اطرافی منا طقوکی بند  دیوارونه .اهلی ځاروی سره بیلوی.یا دسرحد حیثیت لری . او لاس  وهنه بندوی.